يو سړي له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه وپوښتل: په اسلام کې کوم خوی ډېر غوره دی؟ هغه وفرمایل: «دا چې چاته خوراک ورکړې او په اشنا او نا اشنا سلام واچوې

له عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روایت دی چې: يو سړي له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه وپوښتل: په اسلام کې کوم خوی ډېر غوره دی؟ هغه وفرمایل: «دا چې چاته خوراک ورکړې او په اشنا او نا اشنا سلام واچوې».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وشوه: په اسلام کې کوم صفت ډېر غوره دی؟ هغه دوه ځانګړنې یادې کړې: لومړی: مسکینانو ته ډیره ډوډۍ ورکول لکه: صدقه، تحفه، مېلمستیا او ولیمه او د خوراک ورکولو فضیلت قحطۍ او قیمتۍ پر مهال لاپسې زیاتیږي. او دویمه: هر مسلمان ته سلام اچول، برابره خبره ده که يې پېژنې یا يې نه پېژنې.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5808